# د نور الامین یوسفزي افسانو کښې علامت نګاري

## Symbolism in Short Stories of Noor ul Amin Yosufzai

ډاکټر فقیر محمد فقیر*

**Abstract:**

Noor ul Amin Yosufzai is a well known short story writer in Pashto literature history. His four books of short stories Dade oone , Link Road, Da Asoono Bachaee and Draima Lar .He famous for symbolic style in Pashto fiction . He has special command on art and technique in short story writings. We observe new experimental approach in his creations.In this paper I discussed about symbolism and symbolic short stories of Noor ul Amin Yosufzai which a prominent part of his stories. He always use unique symbol I artistic way.

**Key words:** symbol, symbolism, symbol in short stories Noo rul Amin.

نورالامین یوسفزی د پښتو ادب خصوصاً د علامتي افسانې په حواله یو معتبر نوم دی، د هغهٔ کمال دا دی چې نهٔ صرف د افسانې د فن په باریکیو خبر دی بلکې تکنیکي طرز یې هم لاجوابه دی. په فن او تکنیک د ګرفت لرلو په وجه یې په افسانه نوې نوې تجربې کړي. کهٔ پښتو افسانه دا قسمه نورې لارې چارې او د عالمي فکر پلوشې په خپل نازک وجود کښې ځای کړي نو دغه ژورتیا ، شیریني او تخیلي رنګونه به زمونږ افسانوي ادب عالمي ادب سره اوږه په اوږه د تګ جوګه شي. پښتو کښې د افسانې تاریخ کهٔ هر څومره اوږد نهٔ دی او د جدید دور پیداوار دی خو بیا هم خوش قسمتي دا ده چې په دې لنډ تاریخ کښې ئې هم لوې لوې نومونه پیدا کړي دي او د ژوند په هر اړخ یې ښې افسانې لیکلي دي چې په هغو کښې یو افسانه نګار نورالامین یوسفزی هم دی، د هغهٔ د افسانو په علامتي انداز باندې د بحث نه وړاندې ضروري ده چې د علامت تعریف اوشي.

مارتن ګرے (Martin Gray) د علامت تعریف داسې کوي:

> "A symbol is something which represents something else (often an idea or quality) by analogy or association."(1)

**ژباړه**: علامت یو داسې څیز دی چې د بل یو شي نمائندګي کوي (اکثر یو خیال یا خصوصیت/ معیار یا د ټکو تړون او تعلق پیدا کوي.

علامت یا سېمبل (symbol) د یوناني ټکو sym او Balon نه ترکیب موندلې دی.sym د ملګري یا یو ځای او ballon د ویشتلو په معنا کښې استعمالیږي چې مطلب ئې شریک ویشتلی شوی دی. د یو ځای د اېښودلو مطلب هم ترې ځینې پوهانو اخستې دی.

---

* Lecturer, Pashtoonkhwa Study Center, Bacha Khan University, Khyber Pashtoonkhwa

د سمبولزم تحریک فرانس کښې شروع شوی او په دغه خاوره یې ترقي کړې ده . په ۱۸۸۶ء کښې Lifigaro په اول ځل د سمبولزم اصطلاح استعمال کړه. بیا دغه اثر انګریزي ادب کښې هم ځای شو. د فرانس مشهور علامت نګاران بودلیر Baudelair، پال والیري paul Valery، رامبدو Rambaud، ایډم دلیسلے Adom Dellse او ملارمے Mallarme دي.

انګریزي علامتي شاعرانو کښې ییټس Yeats، ایلیټ Elito، سټیون Steven، پونډ pound او هارټ کریني Hart Crene، بلیک Blake او جیمس جوائس وغیره دي.

ځنې پوهان تشبیهه، استعاره، اشاره، کنایه او تمثیل هم د علامت سره نزدې یا تقریباً یوې معنا کښې استعمالوي. په اصل کښې علامت د دغه ذکر شوؤ ټولو څیزونو نه منفرد او اوچت مقام لري. کۀ چرې څۀ مشابهت ئې شته نو هغه د مجازي معنو په وجه دی. علامت د حقیقي معنې په ځای مجازي معنو کښې استعمالیږي. او تشبیهه، استعاره، کنایه هم مجازي رنګ کښې مخې ته راځي.

اشاره د یو څیز د وجود او ظاهر دلیل وي او علامت د یو څیز تصور ذهن ته راولي. دغسې اشاره یو یقیني څیز دی او علامت د یقیني څیز غیر یقیني اړخ مخې ته راولي. د شبیهه د پاره مشبه او مشبه به بنیادي توکي دي، عرض او حرف تشبیهه ورله هم پکاروي. علامت د دې قسمه پابندو نه ازاد وي. استعاره هم د مستعار، مستعار منه او وجه جامع ته اړتیا لري. او د دواړو یعني تشبیهه او استعاره کښې د حقیقي او مجازي معنو تر مینځه څۀ نا څۀ تعلق ضرور وي چې وجه تشبیهه او وجه جامع ورته وئیلی شي خو علامت د څۀ خاص ربط محتاج نۀ وي. هم دغسې تمثیل په شعوري زیار پیدا کیږي او علامت په شعوري او غیر شعوري کوشش هم مخې ته راتلې شي.

ډاکټر یار محمد مغموم لیکي:

> "زموږ په جدید دور کښې د ځینو لیکونکیو استعمال کړي علامتونه دومره داخلي، ذاتي او مجرد دي چې په اسانه یې څوک په معنو نۀ شي پوهېدی ځکه د علامت نګارۍ په ضمن کښې دا خبره یاد ساتل پکار ده چې داسې علامتونه استعمالول پکاروي چې خپلې مخصوصې معنې لري او پکار ده چې په دغو باندې هر څوک وپوهیږي."(2)

کۀ چرې یو علامت بې ځایه ابهام او مسئلې پیدا کوي یا دا چې صرف شاعر پرې پوهیږي نو بیا خو صحي ده . خو اصل خبره دا ده چې علامت یوه مخصوصه معنا نۀ لري. کۀ چرې هر څوک ترې هم دغه یوه معنا اخلي نو بیا علامت نۀ شو. د ډاکټر صیب خبرې سره اتفاق ځکه نۀ شي کېدې چې د علامت شاته د معنو یوه سلسله وي او کله چې علامت دومره عام شي چې بس یوه معنا ترې واخستې شي نو بیا علامت نۀ پاتې کیږي محض یو نشان ترې جوړ شي.

شاد امر تسري لیکي:

"میں اس بات کا حامی کہ علامت بذات خود کوئی ایک مقررہ مفہوم نہیں رکھتی۔ نظم کا مضمون اور شاعر کا طریقہ اظہار

علامت کے مفہوم متعین کرتا ہے۔ یہ علامت خاص طور پر شاعر کی ذات اور اسکی شخصیت سے متعلق ہوتی ہے. اور یہ قطعاً ضروری نہیں کہ علامت کے ایسے مطالب لیئے جائیں جن کو ہمیشہ مقرر کر دیا گیا ہے."(3)

علامت په خپل وجود کښې معنا نهٔ لري. دا خو شاعر یا ادیب وي چې په ټکو معنې اچوي. یا دا چې لوستونکي ترې کومې معنې اخلي.

ډاکټر اعجاز راهي لیکي:

" علامت کسی ان دیکھی شے کی مماثلت یا مشابہت ہے اس کے پیچھے محسوسات اور اشارات کا لامتناہی سلسلہ ہوتا ہے. لیکن یہ سلسلہ اتنا آسان یا مستقیم میں سفر نہیں کرتا بلکہ علامت سازی کے ساتھ علامت کے ہدف تک رسائی پیچیدگی کی نیابت سے گزرتی ہے."(4)

د علامت خوبي دا وي چې هر څوک ترې د خپل ادراک مطابق معنې اخلي ځکه چې متعین او مقرر مفهوم نهٔ لري او کهٔ مفهوم ئې مقرر کړې شي نو بیا د علامتیت د معیار پرېوځي.

"د یونګ د وېنا مطابق فنکار علامت کښې معنوي حمل پېدا کوي او تر هغې ژوندی وي چې حمل برقرار وي کله چې ترې د معنې زېږون اوشي نو د علامت حېثیت ختم شي. د علامت اصل سل پردو کښې پټ وي خو بیا هم د درک څهٔ نا څهٔ څرک ترې الهام کېدلی شي خو معین او مقرر نهٔ وي . علامت یو داسې نخښه وي چې پکښې یو قسم څیز د بل نمائندګي یا پېژندګلو کوي یا ورته اشاره کوي." (5)

" په دغو کښې دغه یو قسم څیز به بل سره ارومرو پټې یا ښکاره اشارې لري. اشارې به مجازي حېثیت لري ځکه چې علامت لغوي معنو کښې نهٔ استعمالېږي دا د ځان نه علاوه د بلې پېښې، یا بل څیز اړخ ته پام ګرځوي. کهٔ مونږ غور وکړو نو تشبیهه استعاره او کنایه هم د بل څیز نمائندګي کوي نو د علامت حېثیت به څنګه وي. د دې جواب دا دې چې دغه نور څیزونه ښکاره وي. او علامت مبهم وي بل د یوې معنې د پاره نهٔ وي بې شمېره معنې ترې اخذ کېدلی شي. په دې د پوهېدلو د پاره ژوره پوهه، تېز نظر او بصیرت پکار دي ځکه چې کهٔ دا هر څو د شمېر حرفونه لري خو معنې پکښې بې شمېره وي." (6)

" د علامت حېثیت الهامي رنګونه لري خو په اصل کښې دا د خپل ذات نه ډېر وسعت لري ځکه چې دا په خپل وجود کښې د خاصې معنې په ځای د مفهوم د ادراک سره تعلق لري او معنا ئې په موتي کښې د بندېدلو نهٔ وي. په پوهېدلو او تشریح کولو کښې مشکلات لري." (7)

او په دغه مشکل کار پوهېدل کهٔ هر څومره ګران دي خو ناشوني نهٔ وي. ګران ځکه وي چې هر څوک ترې د خپلې پوهې، عقل او فکر مطابق معنې اخلي. ځنې علامتونه داسې وي چې د کلاسیکي

دورې یا د ډېر وخت نه رائج وي او د ډېر وخت نه د استعمال په وجه پرې خلق پوهه شوي او هم دغه معنې ترې اخلي ګویا د اصطلاح غوندې عمومیت ئې موندلی وي لکه زمری او باز د بهادرۍ او همت د پاره علامت دغسې د کونترې د امن علامت ګرځېدل ډېر عام دي خو دغسې علامتونه بیا هغه حېثیت نۀ لري کوم چې دې د پاره ټاکلي اصول دي.

علامت کښې نوې معنې او نوښت پکار دی جدید ادب کښې د نوي دور علامتونه او معنې زېږول د یو ښۀ علامت نګار علامت دی ځکه چې اوس خو علامت د باقاعده تحریک په شکل کښې مخې ته راغلی دی. د علامت په صحیح استعمال او عبور ډېر کم لیکونکي کامیاب شوي دي. پښتو ادب کښې دې اړخ ته ژوره کتنه پکار ده.

**د نورالامین یوسفزي علامتونه**:

د نورالامین یوسفزي زیاتې افسانې علامتي بڼه لري او د جدید دور د علامتي افسانې په ځو بهترینو افسانه نګارانو کښې شمېرلې شي. د هغۀ ځلورافسانوي مجموعې ډېرې اونې، لنک روډ، د اسونو باچائي او درېمه لار مخې ته راغلي دي. د دې نه علاوه په مختلفو رسالو کښې هم وخت په وخت د هغوي افسانې چاپ کېږي. په دې لنډه مقاله کښې د نمونې د پاره ځو ا فسانې وړاندې کولې شي.

سپین ګیرې: په لنک روډ کښې شامله علامتي افسانه ده چې د انسانانو ځناورتور پکښې ښودلې شوې دی.

> "سپین ږیرې اوتر شۀ، خپله امسا ئې لاس ته کړه، سترګې یې د ویرې نه برچې راووتې، په منډه منډه د مقبرې لور ته روان شۀ ............ وې بس دی...... اوس به مې نۀ وینئ ...... دا د قبلې اړخ خو د سپو نه هم لاندې شۀ."(8)

د دې افسانې باره کښې سلیم راز لیکي:

> "دا افسانه د خلیج د جنګ پس منظر کښې لیکلې شوې ده. د موضوع مقصد او اهمیت په لحاظ دا افسانه منفرد او اهمه ده خو علامت یې ډېر زیات مبهم او ناقابل شناخت دي. علامتي افسانې هسې هم لوستونکو د ذهني سطحې نه اوچتې وي او ډېرو زیاتو لوستو او ادب فهمه خلقو د پاره وي. ولې دا افسانه په دې لحاظ ډېره کمزورې ده چې علامت ئې عام فهم نۀ وي. ابلاغ ئې دومره مشکل وي چې تعلیم یافته او ادب فهم خلق هم حېران او پرېشان کړي. دا افسانه د یو تشریحي نوټ متقاضي ده چې پکښې د خلیج د جنګ حواله او د علاماتو معنې او مفهوم بیان شي."(9)

"سپین ږیرې" افسانه کښې دغه کردار د امن و امان او د مینې محبت علامت دی. د داسې رهبر نخښه ده چې خپل ټول ژوند ئې تر مرګه دغه مرام او مقصد ته وقف کړې دی. د سلیم راز صېب دې خبرې سره اتفاق نۀ شي کېدلې چې ګني دا افسانه صرف او صرف د خلیج جنګ پورې محدوده کړې

شي. دا خو د عالمي تناظر انځور دی او یو افاقي تاثر لري. یو معین وخت یا پېښې پورې ئې تړل پکار نۀ دي. بله خبره دا چې علامت وائي هم دې ته چې شاته ئې د معنو یو سلسله وي. دا څۀ تشبیهـ، امر یا کنایه خو نۀ ده . د دې یو ویړ مېدان وي. کله چې علامت دومره عام فهم شي چې د هر چا په نظر کښې ئې یوه معنا ښکاره شي او هر څوک وائي چې دا د دې څیز د پاره دی نو بیا له علامت بامه پرېوځي او اصطلاحي رنګ اختیار کړي. د قبلي اړخ د سلیو لاندې کېدل، هر قسم اخلاقي او ا نساني خویونه ختمېدل دي. د انسان هغه بدرنګ شکل او ناوړې رویه ده چې د سپو نه ئې هم لاندې کړې دی. سپي خو بیا هم څۀ نا څۀ خوبۍ لري خو کله چې انسان د انسانیت له بامه پرېوځي نو بیا د کردار په حواله د خپل حرص، لالچ، تکبر او هوسد پاره په هر څۀ اور لګوي. دغه حالات پرونه هم وو، نن هم دي او سبا له د دې نه هم زیات وي. ځکه دا یوه بهترینه افسانه ده او د عالمي تصور هېنداره ده. په هر دور کښې به پرې د زپلو شوؤ احساساتو تنده ماتېږي.

طاهر اپریدی د هغوي د ا فسانو په اړه په حقه لیکي:

"زۀ د ښاغلي اقبال سره په دغه خبره متفق نۀ یم چې څۀ افسانې ئې چې جوسه خو ئې علامتي او څۀ قدرې تجریدي ده. د افسانې لوستونکي څۀ چې لیکونکي پرې هم نۀ رسي. کۀ د ډېډې ونې په افسانو لوستونکي پوهه نۀ شي نو دې کښې د نورالامین هېڅ قصور نشته بلکې دا به د لوستونکي کم فهم یا د افسانې د کمي مطالعې سبب وګڼو."(10)

دغسې د "ډېډې ونې" یوه افسانه "تیارې او جورې" هم ده. تېرې د دې وطن هغه چاپېرچل دی چې ښار ناپرسان ترې جوړ دی. او جورې د هغه عاصبانو علامت دی چې دا تېرې ئې جوړې کړې دي څوک ترې د تپوس نشته په دغه ړوند قانون کښې د بې وسه خلقو وینې څښي.

افسانه نګار لیکي:

"یوه تپه کمزورې مېښه د قصبې په خوا کښې په لوی ډنډ کښې بې مجاله شان خوره وره پرته ده او په وجود ئې زرګونه جورې لګیا دي. وینه ترې څښي. ځینې خو اوس دومره پړسېدلې دي چې په شا ترې د وینې دارې روانې دي خو د مېښې د کمزورې وجود نه خلې نۀ وباسي."(11)

کمزورې مېښه د دې وطن علامتي څهره ده. یو اړخ ته کۀ جورې یعني عاصبان دوه رنګي سیاست دانان او استحصالي قوتونه لګیا دي د خپل ذاتي عرض د پاره د وطن بېخ بنیاد وباسي نو بل اړخ ته د دې وطن د اولس بې حسي هم بیانوي. دغه بې وسه اولس سره کۀ هر څۀ کېږي دوي ئې برداشت کوي د خپلو حقونو تپوس نۀ کوي. کۀ عالمي تناظر ته ګورو نو مېښه کله د وطن علامت دی. یو تالاب کښې پرته ده نو قصبه د دنیا علامت دی. د دنیا زورور قوتونه لګیا دي زمونږ په خاوره ئې د وینې زوې دا لوبه جاري ساتلې ده. د کوم ځای نه راشي او په

پښتنه خاوره د خپل ناوړې کردارونه لوبوي.

د دې وطن سیاسي، معاشي او سیاسي حالات په علامتي رنګ کښې په یو ژور تاثر مخې ته اېښودی شوې دي چې د یوې الميې نه کم نۀ دي.

سور ګل: د نورالامین یوسفزي غوره علامتي افسانه ده چې د دنیا د بې ثباتۍ علامت دی. سور ګل د امېد او طمعې نخښه ده. د حرص، طمعې، لالچ د پاره هم علامت دی.

درې میاشتنۍ جرس کښې چاپ د دې افسانې نمونه دا ده:

"هغه غټ سُور ګل چې زۀ ورپسې له مودو مودو راهسې سرګردانه روان یم زما نه روان دی، په شا تښتي، داسې لکه چې دا رشته بوټې سیند وي او هغه ئې له ما په مخه کړې وي."(12)

هغه او زۀ: د ډډې ونې یو داسې علامتي افسانه ده چې سماجي او معاشي اړخ پکښې چېړلې شوې دی. طبقاتي، استحصالي او د رشوت بدرنګي په علامتي انداز کښې بیان شوي دي. د افسانه نګار د خود احتسابۍ څېره هم ځلوي.په قدم قدم د ضمیر په عدالت کښې اودرېږي خو د دنیا رنګیني او هوس ئې په سترګو پټۍ لګوي او ورو ورو د ضمیر اواز ترې لرې کېږي. تر دې چې ډېر کمزورې شي. افسانه نګار چې د اوس د بچو پلار دی او د عمر اخري مرحلو کښې دی. یو ځل بیا هغه یعني ضمیر یې د لاسه نیسي. ائینې ته یې مخامخ کوي او هغه په دغه ائینه کښې خپل بدرنګ عملونه ویني. دغه وخت د خپل ضمیر اواز او فېصلې ته غاړه کېږدي. د جمعې ، ضرب، تقسیم او تفریق د چورلندې نه بهر ووځي.

"د هغۀ په بوډا خړپ وجود کښې د بجلۍ غوندې تېزي راځي. ما کلک د متې نیسي او د ائینې مخې ته مې ودروي. زۀ چې کله د ائینې مخې ته اودرېږم او سترګې مې د خپل سترګو سره مخ شوې نو زمونږ دواړو سترګې هم سره وجنګېدلې، نن ما ډېر څۀ ولیدل."(13)

د دې نه علاوه د نورالامین یوسفزي علامتي افسانو کښې ډډې ونې، اوږده شپه، د وروکو لارو مسافر، سپینه تولیه، پاس په کمر ولاړه ګله، توره بلا، سوې لاس او نورې افسانې شاملې دي.

دغسې ور نومې افسانه هم په علامتي انداز کښې د خپلو اقدارو او روایاتو د خاتمې فریاد دی. په دې افسانه کښې یو سپین ږیرې چې د خپل کلتور امین دی هغۀ ته د احساس بیا بیا کېږي چې نوي دور او نوی کول د اقدارو خیال نۀ ساتي روایات لاندې کوي. کوټه او د کوټې ور د خپل کلتور ائینه ده خو بهرنې تهذیب او ثقافت دغه سوچه رنګونه ختموي. او دغه مغربي او د نورو سیمو طور طریقې راځي او شناخت ته تقصان رسوي او لکه د طوفان راځي په دغه ور او در کافي ودروي کۀ دغه سپین ږیرې هر څو ور کلک بند کړی وي خو دغه طوفان او او جاکړ د هغۀ د کوټې چت هم سورې کړې

يعني د هغهٔ په خپل کور کښې زاړهٔ، روايات پاتې نهٔ شي او بچي د نوي دور سره تګ شروع کړي. دهٔ ته اواز کېږي چې مونږ ستا کور ته دننه راغلي يو ور لرې کړه زمونږ مقابله نهٔ شي ځکه چې ستا بچي هم زمونږ په رنګ شوي دي.

" تهٔ زمونږ لاره نهٔ شي نيولی او ګور، مونږ ستا تر انګڼه رارسېدلي يو مونږ څخه داسې طوفان دی چې ستا غوندې بوډا سړی ئې مخ نيوی نهٔ شي کولی ستا خو خپل بچي- - -." (14)

د نورالامين يوسفزي د اسونو باچائي مجموعه کښې يوه علامتي افسانه "د وروکو لارو مسافر" هم ده، په دې افسانه کښې د وروکو لارو مسافر کردار د منزل په سفر کښې په ورانو ويجاړو او ځنګل سر وي. په دغه لاره کښې قدم په قدم غلو ډاکوانو او ځناورو سره مخ وي. په ډېر شواخون او مشکلاتو نه پس چې هغه خپل کلي ته راشي نو د سکون ساه واخلي خو دغه اطمينان ئې هغه وخت ګډوډ شي چې د کلي هر قسمه ډېر سپي هغهٔ پسې شي او رو ګودر ترې خطا شي. د منزل امېدونو ته وار خطا شي.

په دې افسانه کښې د ځنګل د دې ښارِ ناپرسان وطن علامت دی. چې هر طرفته د ظلم جبر او استحصال زور ا و زوراورو راج وي. کهٔ چرې يو کس د دې خلاف راوځي او د رڼا تکل کوي نو هغه د پاره بې شانه مسئلې پېدا کولی شي. او دغه لتکي ته په تيارهٔ کښې د بلېدلو لارې تړلې شي. او دغه درڼا پلوي د ورکو لارو مسافر شي منزل ترې خطا کولی شي. واکدار او استعمار د ځنګل واکداران وي او هغوي د عام اولس په سترګو داسې پټۍ اېښې وي چې د دغو پردو شاته هغوي د حقيقت ادارک نهٔ شي کولی او خپل محسنان پخپله د رڼا او سوکالۍ لارې ته نهٔ پرېږدي. ځنګل ته هم د دې استحصالي نظام علامت دی. او دا بې حسه عام خلق لکه د ځناورو ورپسې وي. او تر څو ئې چې دوي کښې اجتماعي شعور نهٔ وي پېدا شوې نو په انفرادي توګه کهٔ څوک بېدار ذهنه شخصيت پېدا هم شي نو د ځناورو په ښار کښې د بصرتِ او پوهې د کمي په وجه د هغهٔ لارې نيولی شي. او څوک هم ئې پلوي نهٔ وي نو د ورکو لارو بې کلي بې کوره مسافر شي. او د ازادۍ او سوکالۍ ډيوه په زوال کښې مړه شي. د امېد دغه بڅرې بې وزله شي.

د نورالامين يوسفزي افسانه سوی لاس چې د اسونو باچائي نومې کتاب کښې شامله ده . په دې کښې د يو ګل د حاصلولو ذکر دی خو د دې د پاره يو اژدها هم د ګل تر څنګه ناسته ده چې څو ئې حاصلولو ته نهٔ پرېږدي. په دې افسانه کښې ګل د امن او سوکالۍ علامت دی. او اژدها د استعماري قوتونو علامتي اظهار دی، د امن د پاره بې شمېره قربانۍ او واقعات د ګل په وجود کښې موجود دي. او د اژدها مسلسل د بد امنۍ اظهار هم لري. اژدها خو په ښکاره د ګل څوکيداره خو په اصل کښې د ګل دشمنه ده او د ګل طلبګارو ته نقصان رسوي.

**پایله**:

علامت استعمالول او په دې ګرفت لرل او کامیابۍ سره استعمالول ډېر مشکل کار دی او پښتو افسانه کښې خو بیاد شمېر یو څو علامتي افسانه لیکونکي دي. په دغو څو افسانه نګارو کښې د علامت نګارۍ په حواله نورالامین یوسفزی د اول صف په افسانه نګارو کښې شامل دی. د هغوي افسانې په علامتي معیار پوره دي. د هغوي علامتونه تت او ښکاره وي کله کله داسې هم وي چې د سېوري سېوري وي. په حقیقت هغه د نوي علامت او علامت نګارۍ سرخېلو کښې شمېرلی شو، د جدید علامت ټولې خوبۍ ډېر په هنر پکاروي. په هغوي افسانو کښې دعالمي فکر کړۀ وړۀ په نظر راځي او کۀ په خصوصي توګه د پښتون اولس ترجماني کوي نو په عمومي نظر د نړیوال ارزښت خوبۍ لري . د انسان او انسانیت نمائندګي کوي او د هغوي د فن او فکر عکاسي هم کوي. دا ځکه چې هغه د تخیل په زور خپل تحلیقي کردارونه په خپل موتې کښې ساتلې وي. دغه وجه ده چې هغه د افسانې په هنر او مقصدیت کښې کامیاب دی او په دې خبره کښې هېڅ شک نشته چې د پښتو افسانې او بیا خصوصي توګه د علامتي افسانې تاریخ به د هغوي د نوم نه بغېر نیمګړی وي.

## حوالې

1. Martin Gray, A Dictionary of Literary terms, second edition, longman yark press, 1982, p.282

2. مغموم، یار محمد، تاتره، درې میاشتنۍ جنوري، مارچ، ۲۰۱۰ء، مخ ۹۰

3. شاد امر تسری، شاعری میں علامتوں کا مسئلہ، مشمولہ، علامتوں کے مباحث، مرتبہ اشفاق راہی، لاہور، قدسیہ اسلامک پریس، ۲۰۰۵ء، ص۵۳۷

4. اعجاز راہی، اردو افسانے میں علامت نگاری، راولپنڈی، ریز پبلیکیشنز، ۲۰۲۰ء، ص۸۶

5. یاسر، خالد اقبال، ادبی، فکری تحریکات اور اقبال، لاہور، اردو سائنس بورڈ، س،ن ص۲۹۹

6. نارنگ. گوپی چند، نیا اردو افسانہ، تجزیے اور مباحث، دہلی. اردو اکادمی، ۲۰۱۰ء، ص۸۴

7. سلیم اختر، ڈاکٹر، تخلیق تخلیقی شخصیات اور تنقید، لاہور، سنگ میل پبلیکیشنز، ۲۰۱۱ء، ص۱۶۲

8. نورالامین یوسفزی، لنک روډ، ۱۹۹۱ء، مخ ۱۲۷

9. همدغه، مخونه ۱۵، ۱۶

10. طاهر اپریدی، نورالامین یوسفزی یو ذهین لیکوال، مشموله، جرس، اکتوبر، دسمبر ۱۹۹۷ء، مخ ۲۲

11. یوسفزی، نورالامین، ډډې ونې، ۱۹۹۶ء، مخ ۱۰۲

12. یوسفزی، نورالامین، سوی لاس، مشموله، جرس، جنوري مارچ، ۱۹۹۷ء، مخ ۱۳۳

13. یوسفزی، نورالامین، ډډې ونې، مخ ۶۴

14. یوسفزی، نورالامین، د اسونو باچائي، صوابۍ، قام قلم، ۲۰۰۲ء، مخ ۸۸